# KHURASAN
## UNIVERSITY

Join the pace & lead the future....




# د لارښود کتاب
# 2024

## کمپیوټر ساینس پوهنځی

0788661369- 0783707172- 0784901901
اوومه ویاله د مېوې مارکېټ ترڅنگ جلال اباد ښـــــار
info@khurasan.edu.af
www.khurasan.edu.af

بسم الله الرحمن الرحيم

# د خراسان پوهنتون لنډه پیژندنه

خراسان پوهنتون په ۱۳۸۶ لمریز کال کې د افغانستان د اسلامی جمهوریت د محترم ریاست مقام حکم په اساس یوازې د اقتصاد پوهنځي د جواز په اخیستو سره د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار په دریمه ناحیه کې پدې موخه رسماً خپل فعالیت پیل کړ چې په هیواد کې ځوان نسل ته د اسلامي، ملي او افغاني ارزښتونو په رڼا کې د پر مختللو تخصصي معیاري لوړو زده کړو زمینه برابره کړي. د هغه وخت د لوړو زده کړو مؤسسې په توګه، دې پوهنتون له خپل تاسیس څخه بیا تر ننه پورې د وطن د بچیانو د رضایت په جلبولو سره د ملاحظې وړ پراختیا او پرمختګ کړی او اوس مهال پکې د اقتصاد، انجینری، کمپیوتر ساینس، بشری علومو او د کاروباري اداري د ماسترۍ برنامه، د فاینانس، منجمنت، سیول، سافت ویر انجینرینګ او نیټ ورکینګ، ژورنالیزم او انګلیسي ژبې ادبیاتو دیپارتمنتونه شتون لري چې زرګونه محصلان پکې په لوړو زده کړو بوخت دي او تدریسي چارې ئې په ملي او نړیوالو معیارونو د پیاوړو کورنیو او بهرنیو استادانو له خوا پرمخ بیول کیږي.
خراسان پوهنتون تر دې دمه په نوموړو رشتو کې په سلګونو فارغ علمي – مسلکي کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي چې همدا اوس عملاً د هیواد په داخل او خارج کې بشریت ته د خدمت لپاره خپلې خولې تویوي.
دا چې خراسان پوهنتون د لوړو زده کړو محترم وزارت د ټولو لایحو او طرزالعملونو سره سم خپلې علمي او تحصیلي چارې مخته وړي نو د هغه وزارت دیوې دقیقې او هر اړخیزې ارزونې وروسته ئې په ۱۳۹۲ کال د لوړو زده کړو مؤسسې څخه د پوهنتون درجې ته ارتقأ وکړه. خراسان پوهنتون د خپلو علمي – تحصیلي پروګرامونو تر څنګ بیلابیل لنډ مهاله پروګرامونه هم لري چې له ډلې ئې د محاسبې، مدیریت، معلوماتي تکنالوژۍ او انګلیسي ژبې یو کلن پروګرامونه یادولای شو. دی پوهنتون د خپل علمي کادر د تحصیلي – تخصصي سطحې د لوړولو او په مختلفو علمي، تحصیلي، تحقیقي، فرهنګي، د تجربو د تبادلې او نورو ساحو کې د همکارۍ په موخه ملي، او بین المللي، معتبرو پوهنتونونو سره اړیکې ټینګې کړي دي.






# د خراسان پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي د رئیس پیغام!

څرنګه چې نن ورځ ټکنالوژي د ټولنیز ژوند او د نړیوالو اړیکو بنسټیز عامل بلل کیږي، نو په نني عصر کې د ټولنیز ژوند څخه نیولي بیا تر کاروبار او بازار موندني پورې ټول د ټکنالوژۍ پورې تړاو لري. نو بهتره مو وبلله، چې خپل ځوانان په عصري ټکنالوژۍ په زده کړو سمبال وروزو او د هېواد دغه بنیادي ستونزه په معیاري او اساسي شکل سره بشپړه کړو او خپل هېواد د نړیوالو او سیمه ایيزو هېوادونو سره د نوې او عصري ټکنالوژۍ په برخه کې سیال کړو.

موږ په دې باوري یو، چې د نن عصر د ټکنالوژۍ، بازار ډېری وخت په تحول او پرمختګونو کې دی، ځکه مو وموپتیله، چې د هر ډول راپېښېدونکو ټکنالوژیکي پرمختګونو او مسائلو په وړاندې به خپل لازم او هر اړخیز چمتوالي ولرو. هېره دې نه وي دغه چمتوالی د علمي څېړنو، تحقیقاتو ،ملي او نړیوالو تجاربو څخه په ګټې اخیستنې او د یو علمي چاپیریال په لرلو به منځ ته راځي. په دې ډول، چې نه تنها د افغاني ټولنې بلکې د نړیوالو هېوادونو اړتیاوې او ضرورتونه د هېواد په داخل او خارج کې رفعه کولو سبب وګرځي.


نصرالله کشمیر خان
د کمپیوټر ساینس پوهنځي رئیس

# د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځی



خراسان پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځی اوس مهال د ای ټي او نیټورکینګ او سافتویر انجینیرینګ څانګو په درلودلو سره د لیسانس په کچه محصلین روزي.





# د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساېنس پوهنځی

د کمپیوټر ساینس پوهنځی تاریخچه: کمپیوټر ساینس پوهنځی ۱۳۹۰ لمریز کال د پوهنتون د رهبرۍ لخوا یې جواز تر لاسه کړ، چې موخه یې ځوان نسل ته د اسلامي ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې، په ملي او نړیواله کچه معیاري لوړو زده کړو لپاره زمینه برابروول دي. کمپیوټر ساینس پوهنځي یو ډیپارتمینټ (معلوماتي ټکنالوژۍ او نیټورکینګ لري. تر دی دمه یې شپاړلس دورې محصلین فارغ ورکړي، چې د فارغانو شمیر یې شاوخوا زرو تنو ته رسیږي او اوس مهال په کی له زرو تنو څخه زیات محصلین په زده کړو بوخت دي.

**اوسنی حالت**:

د کمپیوټر ساینس پوهنځي دوه ډیپارټمنتونه (معلوماتی ټکنالوجی او نیټ ورکینګ – سافټ ویر انجینرنګ) لري، چې (۶۸۱) تنه ذکور محصلین پکې خپلی لوړې زده کړې کوي د تدریس چارې د کورنیو او بهرنیو مجربو استادانو لخوا چې د ماسترۍ تر کچی لوړی زده کړې لري، پرمخ بیول کیږي.
د پوهنځی علمی او اداری چارې د پوهنځي د رئیس، د ډیپارتمنت د آمر تدریسي مدیر، کمپیوټر کار او علمی کادر غړو پواسطه سر ته رسیږي. تحصیلي اسناد یې د موجوده لایحو او معیارونو سره عیار دي. سربیره پر دې کمپیوټر ساینس پوهنځي د ننګرهار پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي سره ښې اړیکې لري. کمپیوټر ساینس پوهنځي د پوهنتون په کچه علمي او اداری برخو تر څنګ د څیړنی مرکز هم لري.

د خراسان پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي مرام ،ماموریت او اهداف

## مرام (Vision)

د عصري او نوي ټکنالوژۍ په برخه کې وړ علمي او مسلکي کادرونه، چې په ملي او نړیواله کچه په خپل مسلک کې سیال وي تر څو له فارغت وروسته په دولتي، خصوصي او نړیوالو ادارو کې ورسپارل شوې دندې په اغیزمنه توګه ترسره کړي.

## ماموریت (Mission)

د عصري او نوي ټکنالوژۍ کې داسې بیاوړي علمي او مسلکي کادرونه وروزي، چې ټولنیز او اخلاقي وجایب پېژندلو سره په خپل کاري ټیم کې د مسایلو د حل، تصمیم نیونې، مفاهیمې او په عملي چارو کې د ونډې اخیستنې پوره وړتیا ولري، تر څو د ټکنالوژۍ پر مټ د ټولنې شته ستونزې حل او درک کړي.

## موخې (Objectives)

- په علمي او تخنیکي برخو کې د علمي کارونو لپاره انکشافي پروګرامونه جوړول.
- د استادانو د شمېر او علمي کچې لوړول.
- د موجوده استادانو لپاره د دوکتورا برنامې زمینه برابرول.
- د هېواد په داخل او خارج کې د استادانو او محصلینو د علمي سویې لوړونې په خاطر د سمینارونو، ورکشاپونو، کنفرانسونو او نورو خېړنیزو پروګرامونو برابرول.
- د پوهنځي د لرلید او ماموریت څخه ملاتړ.
- په ټوله کې د زده کونکو او ټولنې اړتیاوو ته پاملرنه کول.
- په دوامداره توګه خپل علمي پروګرامونه او کریکولم پیاوړي کول.
- په هېواد کې د کمپیوټر ساینس پوهنځي په توګه اعتبار ساتل او په دومداره توګه د خپلو فعالیتونو څخه شارنه او د شته ستونزو له منځه وړل.





- په دوامداره‌ډول خپل علمي پروګرامونه او کریکولم پیاوړي کول ترڅو د چاپیریال د بدلونونو سره تړاو ولري.
- د تدریسي پروسی پرمختګ او د لوړو زده کړو د لایحی مطابق نصاب ټاکل
- د نړیوالو نورمونو سره سم د معیاري تعلیمي نصاب رامنځته کول.
- د نوي نصاب د تطبیق کولو دپاره د استانتیاوو برابرول .
- د محصلینو فعالیت او د ورسپارل شویو دندو ارزونه کول .
- د درسي پروسی د ارزیابۍ لپاره د کاري کمیټی ټاکل .


**• د فزیکي زیربیناوو تاسیسول**:

- ○ د کنفرانسونو، د نویو محصلینو د ښه راغلاست غونډو لپاره د تالار جوړول .
- ○ د امتحاناتو د اخیستلو دپاره د یو مناسب هال جوړول .
- ○ د عملي زده کړو دپاره محصلینو ته د مجهز لیب جوړول .
- ○ د پروګرامنګ په برخه کی د سافټ وئیر هاوس جوړول .
- ○ د پوهنځي په کچه د شنی ساحی برابرول .
- • د محصلینو د مدني، علمي، فرهنګي او سپورتي فعالیتونو په موخه ټولنې جوړول.

**په لاندی توګه د ټولنو د جوړول دپاره زمینه مساعدول**:

- ○ د ښه نظم او دسپلین دپاره د استادانو او محصلینو یوه ګډه کمیټه جوړول .
- ○ د اخیري سمستر د پروژې د کتلو دپاره د یو ځانګړی کمیټې ایجاد .
- ○ د محصلینو د ساعت تیرۍ دپاره د ورزشی میلو برابرول.
- ○ د ټولنې د کلتور او فرهنګ سره د محصلینو د بلدتیا په خاطر د فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو پر لار اچول .






- د استادانو، محصلینو او اداری غړو ترمنځ دورور ولۍ ډاډمنه فضا رامنځته کول.
- د محصیل د ښې روزنې په خاطر د استاد او محصل ترمنځ د اړیکو زمینه برابرول.
- دورورولۍ فضاء درامنځته کولو دپاره د په ګډه د سفرونو برابرول .
- د پوهنځي په فعالیتونو کی دمحصیلینو ونډه اخیستنه .
- د محصلینو او استادانو ترمنځ دورزشي مسابقو برابرول
- داسې علمي چاپیریال رامنځته کول په کوم کی چی استاد او محصل د ټکنالوژۍ او نویو میتودونو په کارولو د زده کړې ، تدریس تحقیق او نوښت په موخه سره ګډ کار وکړي.
- د څیړنیزو مرکزونو ایجاد
- د څیړنیزو مرکزونو دپاره د درې تنه ماسټر استادانو لرل
- د استادانو دپاره د نویو میتودونو څخه د استفادی لارښوونه کول
- محصل ته د درسي ساعت څخه اضافه وخت ورکول
- نړیوالو ژورنالونو ته لاسرې برابرول
- د نړیوالو څیړنیزو مرکزونو سره اړیکې او د هغوی د مرستې جلبول
- د کمپیوټر ساینس پوهنځی او د نورو پوهنځیوهڅونه چی خپلی څیړنیزی پروژی د کمپیوټر ساینس پوهنځي په څیړنیز مرکز کې په ګډ تفاهم سره ترسره کړي.

**د کمپیوټر ساینس پوهنځي لومړیتوبونه او ارزښتونه .**

- باکیفیته لوړې زده کړې
- د ملي یووالي ټینګښت
- اخلاق او کرامت
- سالمه اداره، اغیزمنتوب،ګټورتوب
- اکاډیمیکه ازادي
- معیاري باکیفته لوړې زده کړې
- احترام
- نوښت
- عملي اقدام
- د ټولو علمي ارزښتونه پالنه او نظر کې نیول
- پاملرنه
- بدلون
- ګروپي کار
- پیاوړتیا
- شفافیت او رښتینولي
- نیک نوم تر لاسه کول او د هغې ساتنه

# د خراسان پوهنتون د کمپیوټرساینس پوهنځي تشکیلاتي جـوړښت




د خراسان پوهنتون د کمپیوټرساینس پوهنځي د علمي او اداري تشکیلاتي جوړښت ددې پوهنتون د علمي شورا په (۱۴/سرطان/۱۴۰۰) تاریخي غونډه کې مطرح، درائیو په یووالي سره تائید او په (۴) شمره پروتوکول کې ثبت دی.

## محصل څوک دی؟

د خراسان پوهنتون په آند محصل هغه څوک دی چې د يوې قانوني پروسې له لارې ددې پوهنتون اړوند پوهنځيو په درسي– تحصيلي پروګرامونو کې شامل او يا يو درسي بهير يې بشپړ او په بل درسي پروګرام کې د شاملېدو مستحق وي او يا هغه چاچې د پوهنتون له تدريسي پروسې څخه مؤقت رسمي رخصت او يا تأجيل اخيستی وي هم محصل ګڼل کيږي.

**د محصل د منلو شرايط**:

د محصل منل د خراسان پوهنتون د اساسنامې د دريځ ديرشمې (۳۳) مادې د حکم پر اساس په لاندې ډول صورت نيسي:

– د ښوونې او روزنې وزارت په تائيد د دولسم ټولګي د فراغت سند ارائه کول.

– د تابعيت تذکره، د بهرنيو محصلينو لپاره د پاسپورت او رسمي ويزې درلودل.

– د خراسان پوهنتون د کانکور ازموينه کې ګډون او برياليتوب تر لاسه کول او يا دلوړو زده کړو وزارت له طريقه د کانکور امتحان د اخيستلو وروسته دې پوهنتون ته د تحصيل په موخه معرفي کول.

– په خراسان پوهنتون کې محصل پرته له جنسي، نژادي سمتي، قومي، رنګ، عقيدې او ژبنی تعصباتو منل کيږي او ټول يو شان حقوق او امتيازات لري.

– په ټاکل شوو څانګو کې چې له مخکې پلان شوی وي د محصلانو منل.

**په خراسان پوهنتون کې محصل په لاندې ډول ارزول کيږي**:

د خراسان پوهنتون په بيلابيلو پوهنځيو کې محصل د صنفي فعاليتونو، سميناررونو، کنفرانسونو، کويزونو، ټستونو، ۲۰ فيصده امتحانونو او بالاخره د سمستر د فاينل امتحان له طريق ارزيابي کيږي.

خراسان پوهنتون د محصلينو د ارزونه په لاندې طريقو صورت نيسي .

۱: صنفي فعالېتونه ۲۰ ٪ نمرې لري چې په لاندې ډول دي:

الف: کويزونه .













ب: کورنی دندې.

ج: پریزېنټیشن .

۲ : منځنۍ ازموینه: دغه ازموینه د سمستر منځنۍ ازموینه ده چې دمحصل د ارزونې په موخه اخیستل کیږي او ٪۲۰ نمرې لري.

۳ : نهایي ازموینه: دغه ازموینه د سمستر وروستۍ ازموینه ده چې د محصل د ارزونې په موخه اخیستل کیږي او ٪۶۰ نمرې لري .

۴ : د مونو ګراف د دفاع ازموینه: دغه ازموینه د محصل څخه د څلور کلنې دورې په پای کې اخیستل کیږي او د ۲۰۰ نمرو پر اساس محصل ارزیابي کیږي چې د ۱۱۰ نمرو په اخیستلو سره محصل بریالی ګڼل کیږي.

**د خراسان پوهنتون محصلینو لپاره تخفیف**:

خراسان پوهنتون خپلو محصلینو لپاره په بېلابېلو مواردو کې ځانګړې تخفیفونه لري چې کیدای شي په لاندې توګه ترې نوم واخیستل شي:

۱. هر کال شپږو (۶) تنو د شهیدانو وارثانو ته 100% تخفیف.

۲. معلولینو لپاره 20% تخفیف.

۳. د لېسانس برنامو کې نجونو لپاره 50% تخفیف .

۴. د سمستر په ازموینو کې لمړي درجه ممتاز محصل ته 40%، دوهمه درجه ممتاز محصل ته 30% او درېیمه درجه ممتاز محصل ته 20% تخفیف.

۵. په سپورتي فعالیتونو کې د الف لوبډلو لوبغاړو لپاره د 20% څخه تر 30% پورې تخفیف.


۶. اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخامخ محصلینو لپاره خراسان پوهنتون یو ځانګړی کمیسیون لري چې له دقیقې څېړنې وروسته ورته 20% څخه تر 30% پورې تخفیف ورکول کیږي.

**د خراسان پوهنتون اسانتیاوې**:

د خراسان پوهنتون اقتصاد پوهنځې خپلو محصلینو ته د انګلیسي ژبې د زده کړې یو کلنه وړیا د (DEL) برنامه لري .

د خراسان پوهنتون اقتصاد پوهنځې د اقتصاد په برخه کې (۲۱۷۱۶) عدد په الکترونکي او (۱۵۰۷) عدد په فزیکی بڼه کتابونه لري چې نوموړې پوهنځي محصلین ترې په وړیا توګه استفاده کوي .

Diploma in English Language




د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي خپلو محصلینو ته وړیا انټرنیټي سهولت لري چې محصلین ترې په علمي او تحقیقي برخه کې استفاده کوي .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي (۱۲) تنه استاد لري چې له دې جملې څخه (۷) د ماسترۍ او (۲) استادان د دوکتورا په کچه لوړې زده کړې لري .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي ټولې تدریسي خونې په(**LCD**) ایرکنډیشن او نورو لازمو تجهیزاتو سمبال دي .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي مجهز لیبونه لري چې نوموړي لیبونو کې (۸۰) پایې کمپیوټرونه شتون لري .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي د مسجد په لرلو سره خپلو محصلینو ته د لمانځه زمینه سازي کړې ده .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي خپلو محصلینو لپاره پراخه او مجهز سپورتي میدان لري چې د فارغ وخت کې محصلین په سپورت کولو سره بدني روزنه او تفریح کوي .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي د موټرو او نورو نقلیه وسایلو لپاره پرخه تم ځای لري چې محصلین خپلو نقلیه وسایلو لپاره ترې په وړیا توګه استفاده کوي .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي د اناثو محصلینو لپاره د ټرانسپورټ سهولت لري.

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي د هېواد په سطحه منل شوی ټافل سنټر لري تر څو محصلین پکې د ټافل امتحان په ورکولو سره نړۍ وال انګلیسی سند تر لاسه کړي .

د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي راجستر شوی ټرنیټنټ سافټ ویر لري چې د محصلینو د تحقیق مونوګراف او انټرنشیپ راپور د ادبي سرقت په ګوته کولو کې مرسته کوي .


د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي اناث محصلاتو ته د لمانځه او دمې لپاره جلا خونه لري .


د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي دمحصلینو ذهني ارامتیا لپاره چمنونه او شنې ساحې لري .


د خراسان پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي د ترکیه، مالیزیا او پاکستان ځینې معیاري پوهنتونونو سره ګډ علمي تواميتونه لري چې په اساس یې د یاد پوهنځي محصلین نوموړو پوهنتونونو ته د دوه سمسترو لپاره لیږل کیږي .

د هر کال په پای کې د کمپیوټر ساینس پوهنځی د محصلینو تر مینځ د سافټویر ایکسفو رقابتي برنامه دایریږي.

د هر سمستر په پای کې د محصلینو تر مینځ د هایکتان (Hackhaton) رقابتي برنامه دایریږي.




## د زده کړیز مدیریت سیستم ( Learing Management System )

د زده کړې عصري مدیریتي ان لاین سیستم (LMS) په مرسته به درانه محصلین وکولای شي چې له هر ځای او هر وخت د انټرنیټ پر مټ د خپلو پروفایلونو تر څنګ د مضامینو له مفرداتو، کورس پالیسیو، لیکچرنوټونو، سلایډونو، کتابونو، د فیسونو تادیې، ټولګیو مهال ویشونو، حاضرې، له استاذانو د پوښتنو مطرح کوونې، د کورنیو دندو څخه خبرتیا او د هغو ان لاین سپارل ،د کویزونو او نتایجو څخه خبرتیا د پوهنځي د نورو چارو څخه د نه رضایت په صورت کې د مشکلاتو مطرح کول، د پوهنتون ډیجیټل کتابتون ته لاس رسی او تر یو ځانګړي تعداد کتابونو ډاونلډول، او نور هغه څه دي چې د زده کړې مدیریتي سیستم ( LMS ) سیستم په لرلو سره به محصلین تر ډېر ګټې استفادې پورته کولای شي.

**دمحصلانو دندې او مسؤليتونه:**

د خراسان پوهنتون د اساسنامې او مقرراتو د احکامو رعايتول.

له تاوتريخوالي، توهين او هر ډول ناوړه عملونو څخه مخنيوى، په پوهنتون، پوهنځى او ټولګي کې نظم او دسپلين ته له زيان رسولو ډډه کول.

د استادانو ،محصلانو او منسوبينو حقوقو ته درناوى کول.

له هر ډول تبعيضي او تعصبي کړنو څخه ډډه کول.

درسونو ته په بشپړ ډول تيارى نيول او په تحصيلي چارو کې فعال ګډون کول.

د پوهنتون، پوهنځى او ديپارتمنت په ساحه کې نظافت او پاکۍ ته پاملرنه کول.

د پوهنځي او پوهنتون اداري ته بير ته د هويت کارتونو او نورو هغو شيانو سپارل چې محصل ته د تحصيل په دوره کې ورکړل شوى دى.

اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ته بشپړ درناوى.

**د محصلينو حقوق:**

خراسان پوهنتون کې محصلان ددې پوهنتون د اساسنامې د څلور ديرشمې(٣۴) مادې د حکم سره سم د لاندى حقوق څخه برخمن دي:

په درسونو (لکچرونو) سمينارونو، کنفرانسونو او ښوونيزو پروګرامونو کې محصلانو ته د هغوې د وړتيا پراساس برخه ورکول.

د پوهنتون له ټولو اکاديمکو اسانتياوو او امکاناتو لکه کتابتون، وړيا انترنيت خونو، چاپي رسنيو، لابراتوارونو، کمپيوتر ليبونو او نورو څخه ګټه اخيستل.

د سپورتي ميدانونو او وسايلو څخه استفاده کول.

په قانوني توګه دمحصلانو د بيلابيلو مدني ټولنو په چوکات کې مدني فعاليتونه ترسره کول.

د تدريسي، علمي او اداري چارو د سمون او پياوړتيا په موخه مشوره او نظر ورکول.

د سمسترونو په ازموينو کې د 40% څخه تر 20% پورې د ممتازو محصلانو لخوا د پوهنتون د تخفيف څخه استفاده کول.

په کانکور امتحان کې د لوړو نمرو ګټونکو ته په داخله فيس کې 50% تخفيف ورکول.









د څلور کلنې دورې په پای کې عمومي اول نمره ته ستاینلیک او مډال ورکول.

هر محصل ته د خراسان پوهنتون لخوا د هویت کارت ورکول.

محصل ته د هر مضمون مفردات، مقاصد، ګټې او د ازموینې اخیستلو ډول روښانه کول.

په پوهنتون او پوهنځي کې له هر ډول ډار، زورونې او رټنې څخه دمحصل خوندیتوب. د اصولو مطابق د محصل د شکایت کولو حق.

د څلور کلنې تحصیلي دورې په پای کې د مونوګراف تر بشپړیدو وروسته محصل ته د تحصیلی سند (دیپلوم) ورکول.

**د محصلانو د شکایت کولو او اوریدلو لارې چارې**:

خراسان پوهنتون همیشه کوشش کوي چې داسې یو تدریسي – تحصیلي چاپیریال رامنځته کړي چې په هغې کې د محصلینو، استادانو او ادارې او خدماتي منسوبینو بشپړ حقوق خوندي وي.

که چیرې یو محصل، استاد او یا ادارې او خدماتي کارمند د بل محصل، استاد او ادارې او خدماتي کارمند څخه د رسمي دندو او وجایبو د اجرأ په ترڅ کې شکایت ولري نو کولای شي په لاندې توګه خپل شکایت ارائه کړي:

**په غېرې رسمي ډول ادارې ته شکایت کول**:

د شکایت د موجودیت په صورت کې شکایت کوونکي کولای شي خپل شکایت په غیر رسمي ډول له هغه چا سره شریک کړي چې ترې شکایت لري. مونږ باوري یو چې دا ستونزو ته د رسیدګی تر ټولو غوره لار ده ځکه هیڅ شکایت نشته چه د خبرو اترو له لارې حل نشي. د بلې خوا که چیرې مشکل لرونکي او مشکل جوړونکي په خپل منځ کې د مفاهمې له لارې پیدا شوي ستونزه حل کړي نو کدورت او بد بینیو ته ځای نه پاته کیږي.

## په رسمي ډول شکایت کول.

که چیرې د محصل ستونزه په غیر رسمي ډول حل نشي نو کولای شي په تحریري ډول خپل مشکل د پوهنځي او پوهنتون له مقاماتو سره مطرح او خپل غوښتنلیک د مشکل اړوند اسنادو او شواهدو سره ضمیمه کړي.

محصل باید د شکایت وروسته تر یوې اوونۍ پورې د پوهنځي او پوهنتون د مقاماتو پریکړې ته انتظار وباسي خو که چیرې محصل په یاده موده کې د خپلې ستونزې حل تر لاسه نکړي او یائې پریکړه د قناعت وړ نه وي نو کولای شي موضوع د اسنادو او شواهدو سره یو ځای په لیکلی ډول د پوهنتون له عمومي رئیس سره شریکه او قناعت تر لاسه کړي.

## خراسان پوهنتون کې د محصلانو حاضري:

خراسان پوهنتون کې د محصلانو حاضري لږ تر لږه 75% فیصده ده، یعنې هر محصل مکلف دی چې په هر سمستر کې له 75% فیصدو څخه زیاته حاضري ولري.

## د محصل د ناوړه کړنو په اړه د پوهنځي پالیسي:

### د ناوړه چلند بېلګې:

د زده کړې پر مهال اکادمیکه رښتینولي نه مراعات کول.

د زده کړې پر مهال له هر ډول غیر اکادمیکې کړنې لکه نقل، د نورو علمي اثار په خپل نوم کول، له یوه علمي اثر څخه په علمي مسائلو کې څو ځلې ګټه اخیستل او د خپل نفوذ څخه په تحصیلي چارو کې ناوړه استفاده کول.







**نقل**:

دازموينې په دوران کې له ټولو هغو وسايلو او موادو څخه ګټه اخيستل چې د پوهنتون داکاډميکو اصولو له مخې منع دي ، نقل ګڼل کيږي. د بيلګې په توګه د نورو له ورتياوو څخه د ځان په ګټه کار اخيستل، د کتاب او ليکل شوي متن کارول، له تکنالوژۍ څخه ناوړه استفاده او داسې نور.

**د نورو علمي اثار د ځان په ګټه کارول**:

که چيرې يو محصل د بل شخص ټول علمی اثر او ياد هغې يوه برخه په خپل نوم پر ته له ماخذ ښودنې وکاروي جرم ګڼل کيږي او دغه عمل د کتاب، مقالی، مونوګراف، کورنۍ دندې، ويب پاڼې، انترنيت کارونې او نورو له لارې ترسره کيدای شي.

**يو علمي اثر څوځلې د ځان په ګټه کارونه**:

که چيرې يو محصل له خپل هغه علمي کار او اثر څخه چې يو ځل يې کارولی وي او نمرې يې پرې اخيستي وي په تکراري ډول د نمرو اخيستلو په موخه استفاده وکړي نو د خراسان پوهنتون د اساسنامې د احکامو له مخې ګرم ګڼل کيږي.

**خپل نفوذ څخه د ځان په ګټه ناوړه ګټه اخيستنه**:

که چيرې يو محصل کوښښ وکړي د خپل نفوذ، پيسو ورکولو او واسطې کولو له لارې استاد وهڅوي تر څو خپلې نمرې زياتې کړي نو دغه کړنه د خراسان پوهنتون د اساسنامې د احکامو له مخې ناوړه کار ګڼل کيږي.

**تاوتريخوالی**:

که چېرې يو محصل د پوهنتون په چاپيريال کې داسې الفاظ او ابزار وکاروي او يا داسې کړنې تر سره کړي چې د تاوتريخوالي سبب شي او درسي–تحصيلي محيط ته زيان ورسوي نو د خراسان پوهنتون د اساسنامې او د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو له مخې محرم (ګرم) ګڼل کيږي.



**د تدریسي چارو پروړاندې خنډګرځېدل**:

هر ډول ناوړه مداخله چې د پوهنځي او پوهنتون تدریسي او اداري چارو ته زیان ورسوي د خراسان پوهنتون د اساسنامې د احکامو مطابق ورسره چلند کیږي.

**د پوهنتون له اصولو سرغړونه**:

د پوهنتون د اساسنامې له احکامو او اکادمیکو اصولو څخه سرغړونه جرم ګڼل کیږي.

**د محصل مجازات**:

که چیرې محصل د پورته ذکر شوو، ناوړه کړنو په سرته رسولو محرم (ګرم) وګڼل شي او د اعمل څو ځلې تکرار شي نو په لاندې توګه مجازات کیږي:

**اخطار**:

په شفاهي یا تحریري ډول محصل خبرول چې تیروتنه یې کړی او د تکرار په صورت کې ئې له مجازاتو اګاه کول.

**د مضمون ناکام**:

که چیرې محصل په ازموینه کې نقل وکړي نو په نوموړی مضمون کې ناکام شمېرل کیږي.

**له ټولګي څخه شړنه**:


ټولګیوالو سره تاوتریخوالې د درسي بهیر خنډ ګرځیدل، استاد او اداري کارکوونکو ته بې احترامي ددې سبب کیدای شې چې محصل له ټولګي څخه د لنډې مودې یا پوره سمستر لپاره وشړل شي.

**د ازموینې د پایلو ځنډول**:

که چیرې یو محصل تر ټاکل شوي مودې د پوهنځي او پوهنتون اړینی غوښتنې په ټاکلې موده کې ترسره نکړي د ازموینې پایلې یې ځنډیږي، یعنې نمرې یې نه اعلانیږی.

**د سمستر له ازموینې محرومېدل**:

که چیرې یو محصل د ازموینې په رارسیدو خپل پاتې فیسونه تادیه نکړي، په ازموینه کې ګډون نشي کولای.



**له پوهنتون څخه شړنه**:

په خراسان پوهنتون کې یو محصل په لاندې حالاتو کې له پوهنتون څخه شړل کیدای شي:

– خراسان پوهنتون کې د شاملیدو په موخه جعلي اسناد کارول.

– د ناوړه کړنو او سرغړونو تکرارول.

– په پرله پسې سمسترونو کې د کریدت سیستم پراساس پاتې راتلل.

– دوامداره غیر حاضري.

– د محکمې له لورې د محکومیدو په صورت کې.

**د پاکۍ او نظافت مراعاتول**:

هر محصل، استاد، اداري او خدماتي کارکوونکي پدې مکلف دي چې د خپل ځان ،پوهنتون، پوهنځي ، دیپارتمنت او اداري نظافت مراعات کړي.

**د تبعیض او زورونې پرضد پالیسي**:

د خراسان پوهنتون یوه مهمه پالیسي داده چې داسې علمي او اکادمیک چاپیریال رامنځته کړي، چې په هغه کې استاد، محصل او اداري پرسونل پروړاندې د هر ډول تبعیض او تعصب مخنیوی وشي ځکه چې تبعیض او تعصب د خراسان پوهنتون د اصولو او ارزښتونو خلاف عمل دی. موږ پدې باور یو چې تبعیض او تعصب انساني کرامت ته سپکاوی دی او د تحقیق، تدریس او خدماتو پروړاندې خنډهم ګرځي.

د یادونې وړ ده چې هر ډول تبعیض او تعصب که د ژبې، رنګ، قوم، ځای، نژاد، دین ،قد، څېرې، مذهب، جنس، معلولیت، او معیوبیت به نوم وي او یا نورو انساني ځانګړنو له مخې، د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون او دخراسان پوهنتون دپالیسۍ له مخې جرم ګڼل کیږي.



**د تشدد پرضد پالیسي**:

د خراسان پوهنتون رهبري ژمنه ده چې داسې یو چاپیریال رامنځته کړي چې زده کړې ، تدریس او تحقیق لپاره هوسا او د هر ډول تشدد څخه پاک وي، سر بیره پر دې دا دخراسان پوهنتون د ټولو غړو مسؤلیت دی چې د هر ډول تشدد ، غوسې او ګوابښ (تهدید) څخه د یو او بل پر وړاندې ډډه وکړي.

**د تشدد تعریف**:

هر هغه شفاهي یا فزیکي کړنه چې د پوهنتون د غړو د خوربیدو ، دردیدو او بې عزته کیدو باعث شي تشدد بلل کیږي.

چې بیلګې ئې په لاندې ډول دي:

۱. فزیکي یرغل.

۲. د یو معقول او معصوم شخص پر وړاندې داسې سلوک او کړنه چې د هغه د توهین او تحقیر باعث شي.

۳. د یو چاپر وړاندې داسې عمل سر ته رسول چې ځان او مال ته ئې ترې خطر وي.

۴. د خراسا ن پوهنتون د غړو پټ څارل.

**د محصلانو ټولنې**:

په خراسان پوهنتون کې محصلان کولای شي لاندې ټولنې رامنځته کړي:

۱. دمحصلانو ادبي ټولنه: چې فرهنګي او ادبي پروګرامونه پرمخ بیائې.

۲. سیاحتی ټولنه: چې دنده ئې د محصلانو لپاره د تحقیقاتي او علمي سفرونو برابرول دي.

۳. سپورتي ټولنه: چې د محصلانو د سپورتي فعالیتونو د پراختیا لپاره زمینه برابروي.

۴. د محصلانو د فعالیتونو د تنظیم ټولنه:







## د کمپیوټر ساینس پوهنځي بشري سرچینې:

کمپیوټر ساینس پوهنځی دوکتورا او ماسترۍ علمي کادر غړي لري چې دې علمي کادر غړو په مختلفو هېوادونو کې د دکتورا او ماسترۍ تحصیلي سندونه تر لاسه کړي دي. کمپیوټر ساینس پوهنځي ای ټي او نیټورک څانګه ( Research & Invention Center ) لري چې د ای ټي او نیټورک څانګې پورې مربوطه ده په دغه څانګه کې مختلف پروګرامونه لکه: څیړنه، سافټویر جوړونه او د ارډینو پروژې محصلینو ته د علمي کار په موخه ترسره کیږي.



نوم: نصرا الله
تخلص: کشمیر خان
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماستر
دنده: د پوهنځي رئیس



نوم: نجاد
تخلص: احمد
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: یاد اغا
تخلص: جان
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: د دیپارټمنټ امر



نوم: پامیر
تخلص: شمس
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: دوکتور
دنده: استاد



نوم: ارشد
تخلص: مومند
رشته: کمپیوټرساینس
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: خیبر خان
تخلص: همدرد
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: محبوب الله
تخلص: منتظر
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: دوکتور
دنده: استاد



نوم: حبیب الله
تخلص: صافی
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: عطاءالحق
تخلص: هلال
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: استاد



نوم: محمد انورالدین
تخلص: شرفزی
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: ماستر
دنده: استاد



نوم: وحید الله
تخلص: شینواری
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: استاد



نوم: سهیل
تخلص: ساحل
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لیسانس
دنده: استاد

## د کمپیوټر ساینس پوهنځي ای ټي او نیټورک څانګې اداري کارمندان:



نوم: رسول خان
تخلص: ظاهري
رشته: کمپیوتر ساینس
درجه: لېسانس
دنده: ای ټي او نیټورک مدیر



نوم: روح الله
تخلص: پوپلزی
رشته: کمپیوټر ساینس
درجه: لېسانس
دنده: تدریسي مدیر



نوم: خان محمد
تخلص: .
رشته: انجینري
درجه: لېسانس
دنده: کمپیوټر کار



نوم: سفیر
تخلص: خان
رشته: .
درجه: متعلیم
دنده: خدماتي کارمند